# د ښوونې
# او روزنې بسته

Refugee Education UK

# منځپانګې


په بریتانیا کې د کډوالو د زده کړې د اداري لخوا سلام 1

تعلیمي سیستم او لاسرسی 2

- پہ انګلستان کې تعلیم – څنګه ترسره کېږي او ولې اهمیت لري 2
- د دولتي ښوونځیو ډولونه 3
- په ښوونځي کې شمولیت 4
- ښوونځي: ځینې مهم موارد چې باید ورباندې پوهه شئ 5
- د یوه والد یا پالونکي په حیث ستاسو مسؤلیت 7

ښوونځي ته ښه راغلاست! 8

د انګلیسي ژبې د زده کړې په برخه کې د خپل ماشوم سره له کومک کولو خوند واخلئ! 9

د ښوونځي پیل کول 10

- د خپل ماشوم ملاتړ کول کله چې دوی ښوونځي پیل کوي 10
- په ښوونځي کې لومړۍ اونۍ 10
- هغوی په ښوونځي کې چا سره لیده کاته کوي؟ 11
- هغوی په لومړۍ اونۍ کې د کومو موادو سره مخ کېږي؟ 12
- دا به د دوی په درسي ټولګي کې څه وي؟ 13

د ملاتړ نوري منابع 14

اصطلاح ګاني 16



## Acknowledgments

Sections marked as from 'The Bell Foundation' are taken from the resource, 'About the English Education System: Primary Schools. Guidance for parents of children who use English as an Additional Language (EAL).' Used by kind permission. Website: bell-foundation.org.uk

Thanks to the Angus Lawson memorial trust for their generous financial support and to the Department for Education for their support with the dissemination of this pack.

We would also like to thank the staff and students from John Keble Church of England Primary School and Newman Catholic College for their wonderful contributions.


The Bell Foundation

# په بریتانیا کې د کډوالو د زده کړې د اداري لخوا سلام





له افغانستانه راغلیو درنو ملګرو،

موږ تاسو خورا تود هر کلی وایو. موږ یوه خیریه بنسټ یو چې د په بریتانیا کې د کډوالو د زده کې په نامه شهرت لرو او موخه مو دا ده چې د تعلیمي خدماتو په وړاندې کولو سره ځوان کډوال مجهز کړو تر څو یوه روښانه راتلونکي ولري.

موږ دغه د هرکلي بسته پدې موخه ترتیب کړې ده ترڅو تاسو ته په انګلستان کې د تعلیمي نظام په اړه معلومات درکړو ترڅو وکولای شئ ماشومانو سره مو د لاسرسي په برخه کې مرسته وکړئ او ښوونځي ته د تلو لپاره چمتو شئ.

د دغه لارښود د لومړۍ برخې موخه چې په انګلستان کې د تعلیمي نظام په اړه د مهمو معلوماتو درلودونکې ده، والدین او پالونکي دي.

د لارښود مبتاقي برخې ستاسو د ماشومانو په اړه دي – ترڅو هغوی ته ښه راغلاست ووایو او دا ورته روښانه کړو چې په انګلستان کې ښوونځی څه شرئط لري. موږ تاسو ته سپارښتنه کوو چې د لارښود دغه برخه د خپلو ماشومانو سره یو ځای مطالعه کړئ، همدارنګه پدې برخه کې ځینې د لوبو تصویرونه دي چې ستاسو ماشومان یې باید رنګه کې.

د لارښود په پای کې موږ تاسو ته ځینې سپارښتنې لرو دا چې ښوونځي ته ستاسو د ماشومانو په تمه پاتي کېدو په صورت کې هغوی سره کوم ډول فعالیتونو ترسره کولای شئ – لکه دا چې هغو له کومه ځایه کولای شي به آنلاین ډول وړیا د انګلسی ژبې زده کړه پیل کړي.

همدارنګه موږ د هغو نورو بنسټونو نومونه هم پکې درج کړي دي چې کولای شي تاسو سره د اړتیا په صورت کې په مختلفو برخو کې مرسته وکړي.

موږ هیله لرو چې ستاسو ماشوم به دا حق پیدا کړي چې د انګلستان په کچه په ټولو ښوونځیو کې ثبت نام وکړي، موږ خورا خوښ یو چې هغوی ځان سره لرو.


په خورا درنښت،

**په بریتانیا کې د کډوالو د زده کړې تیم**



# تعلیمي سیستم او لاسرسی

## په انګلستان کې تعلیم – ځنګه ترسره کېږي او ولې اهمیت لري



په انګلستان کې ټول ماشومان چې عمرونه یې د 5 او 16 کلونو ترمنځ وي، کولای شي په دولتي ښوونځیو کې زده کړه وکړي – په حقیق کې دا پدې مانا ده چې دوی باید ښوونځي ته لاړ شي. چې دغه عمر ته ،د ښوونځي اجباري عمر، وایي.

تعلیم یا زده کړه کولای شي په ژوند کې بدلون راولي – په اوږدمهاله او لنډمهال کې. دا امر د هغو ماشومانو لپاره چې شخړې او کړاوونه یې تجربه کړیې دي ځانګړې اهمیت لري، ځکه دا کار کولای شي هغوی سره د ژوند په عادیتوب، د امنیت په احساسولو او د دوستیو او اړیکو په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي.

په انګلستان کې د زده کړې سیستم په کلیدي مرحلو کې ویشل کیږي.

لاندې زموږ د تعلیمي نظام یو ګراف موجود دی:

دولتي ښوونځي د ملي نصاب له مخې خپلې زده کړې کوي، چې په هغې کې یو لړ داسې مضامین او معیارونه شتون لري چې له مخې یې دا داډ ترلاسه کېږي چې د ټولو ماشومانو لپاره عین موضوعات تدریس کېږي.

که چېرې زموږ د تعلیمي سیستم په اړه نور معلومات ستاسو لپاره مرستندوی تمامېږي، کولای شئ زموږ په وېبپاڼه کې یې وګورئ: gov.uk/national-curriculum.

| عمر | د عمر په اساس ډله | کلیدي پړاو | د تعلیمي مرکزونو ډولونه |
|---|---|---|---|
| 4–5 | هرکلی | د لومړنیو کلونو اساسي پړاوونه (EYFS) | لومړنی زده کړې |
| 5–6 | 1ی کال | 1 کلیدي پړاو | |
| 6–7 | 2م کال | | |
| 7–8 | 3م کال | 2 کلیدي پړاو | |
| 8–9 | 4م کال | | |
| 9–10 | 5م کال | | |
| 10–11 | 6م کال | | |
| 11–12 | 7م کال | 3 کلیدي پړاو | ثانوي زده کړې |
| 12–13 | 8م کال | | |
| 13–14 | 9م کال | | |
| 14–15 | 10م کال | 4 کلیدي پړاو | |
| 15–16 | 11م کال | | |





## له ثانوي زده کړو وروسته

**اضافي زده کړې:** له ثانوي زده کړو وروسته به ستاسو ماشومان باید تر 18 کلنۍ پورې ځینې نورې زده کړې وکړي. په دغه پړاو کې به ستاسو د ماشومانو لپاره ګڼ د زده کړې په برخه کې ګڼ شمېر انتخابونه موجودې وي. په دغو انتخابونه کې د A کچې BTEC (د سوداګرۍ او تکناجي زده کړې د شورا صلاحيتونه)، NVQs (د ملي حرفو تحصيلي اسناد)، د ډيپلومونو، د کار د زده کړې او داسې نورو مواردو انتخابونه شامل دي. ځینې انتخابونه تحصیلي زده کړې د حرفوي او عملي مهارتونو او کاري فرصتونو سره ګډوي.

**لوړې زده کړې:** تر اضافي زده کړو وروسته، ځینې ماشومان په پوهنتون کې د زده کړې د دوام غوښتونکي وي. هغوی کولای شي تر تحصیلي رتبې لاندې زده کړې وکړي، او ځینې بیا غواړي چې له فراغت وروسته کورسونه ووايي!

# د دولتي ښوونځيو ډولونه

په دولتي ښوونځيو کې شموليت وړيا دی – خو پدې برخه کې ګڼ شمېر ډولونه شتون لري:

**د سيمه ئيزو ادارو ښوونځي:** دغه ښوونځي د سيمه ئيزې اداري لخوا رامنځ ته شوي او ملي نصاب پکې تدريسيږي.

**عقيدوي ښوونځي:** دغه ښوونځي په ځانګړيو ادیانو پورې تړاو لري. په انګلستان کې ګڼ شمېر ښوونځي د انګلستان د کليسا په ښوونځيو پورې تړاو لري، خو د ګڼ شمېر مختلفو ادیانو ماشومانو په دغو ښوونځيو کې زده کړه کوي. ځینې ښوونځي، لکه کاتوليکي او اسلامي ښوونځي کولای شئ په يادو اديانو پورې اړونده ماشومانو ته لومړيتوب ورکړي.

**تعليمي مرکزونه او وړيا ښوونځي:** دغه ښوونځي د مرکزي حکومت لخوا رامنځ ته شوي دي او د غير انتفاعي بنسټونو لخوا چلول کېږي، او په محلي اداري پورې اړه نه لري.

**ځانګړي ښوونځي:** که چېرې يو ماشوم داسې ځانګړيو تعليماتو ته اړتيا پيدا کوي چې د تعليمي نظام د ملاتړ معيارونه نه شي پوره کولای، هغوی کولای په ځانګړيو ښوونځيو کې شموليت وکړي. دغه ښوونځي کولای شي د ماشومانو ځانګړيو فزيکي، رواني او تعليمي اړتيا و ته ځواب ووايي.




# په ښوونځي کې شمولیت

حکومت خپله ټوله هڅه کوي ترڅو هر کډوال ماشوم وکولای شي په ښوونځي شمولیت ترلاسه کړي، خو ځیني وخت په یو واري ډول د ګڼ شمېر نویو شمولیتونو لپاره زمینه برابرول تر معمول ډېر وخت نیسي. په پای کې هر کډوال ماشوم چې قانوني سن (له 5–16 کلنونو) پورې عمر ولري، باید وکولای شي په دولتي ښوونځیو کې د نورو ماشومانو سره یوځای زده کړه وکړي.

لاندې په ښوونځي کې د ماشوم لپاره د ځای پیدا کولو په اړه د (The Bell Foundation) بنسټ لخوا ځیني داسي معلومات موجودي چي په نورمال ډول چاري پرمخ بیایي:

- په ښوونځي کې د خپل ماشومان لپاره د لاندې مواردو لپاره د ځای پیدا کولو په موخه د خپلې سیمې د شورى سره (چې د سیمه ئیزې اداري یا LA په نامه هم یادېږي)، په اړیکه کې شئ.
  - که چېرې ستاسو ماشوم 5 یا 16 کاله عمر لري، نو سیمه ئیزه شورا باید هغوی ته د خپلې سیمې په ښوونځیو کې ځای پیدا کړي.
  - تاسو کولای شئ په ښوونځي کې د شمولیت په اړه نور معلومات دلته پیدا کړئ: gov.uk/schools-admissions
- دلته ځیني نظریات شتون لري چې کولای شي تاسو سره د ښوونځي په انتخاب کې مرسته وکړي:
  - ښوونځي ته په رسمي ورځو کې مراجعه وکړئ
  - د هغوی په اړه معلومات د هغوی په ویبپاڼو کې وګورئ
  - د هغوی په اړه د Ofsted وروستی راپور په دغه لېنک کې وګورئ: reports.ofsted.gov.uk
  - د ښوونځي د هر ډول خدماتو په اړه معلومات په compare-school-performance.service.gov.uk کې وګورئ.
  - د ښوونځي په اړه د نورو والدینو سره خبره وکړئ
- کله چې تاسو پوهه شئ چې کوم ښوونځی باید غوره کړئ، نو تاسو به اړتیا ولرئ چې:
  - په آنلاین ډول د غوښتنلیک فورم ډک کړئ، د څو هغو ښوونځیو نومونه ذکر کړئ چې خوښ مو دي
  - د لومړني ښوونځي لپاره په غوښتنلیک کې خپله اړونده سیمه درج کړئ (اړونده سیمه هغې سیمې ته ویل کېږي چې د ښوونځي اداره تري د شمولیت غوښتنلیکونه مني)
  - پدې برخه کې د خپلې سیمه ئیزې شورا په ښوونځي کې د شمولیت له ټیم څخه مرسته وغواړئ، ځکه کېدی شي ښوونځي ته د غوښتنلیک پروسه یو څه پېچلیي وي.
  - له شورا څخه د هغو نور خلکو ټلنیزو ګروپونو یا ترجمانانو په هکله پوښتنه وکړئ چې کولای شي تاسو سره مرسته وکړي.






## ښوونځي ته د انتظار پرمهال

کله چې تاسو ښوونځي ته د شمولیت لپاره انتظار کوئ، په دغه موده کې ځیني مرستندویه لارې چارې شته چې‌کولای شي ستاسو د ماشوم سره مرسته وکړي.

- ستاسو ماشوم کولای شي د انګلیسي ژبې زده کړه پیل کړي. مونږ تاسو د هغو ویبپاڼو او ځایونو یو نوملړ چمتو کړی چېرې چې ستاسو ماشوم کولای انګلیسي ژبه زده کړي. تاسو کولای شئ دا زمونږ په ویب پاڼه reuk.org/welcome کې پیدا کړئ.
- کېدی شي هلته ستاسو په سیمه کې ځیني داسي خیریه بنسټونه او اداري موجودې وي چې په تعلیمي برخه کې فعالیت کوي. د ځینو نظریاتو لپاره زمونږ دمعلوماتي منابعو څخه لیدنه وکړئ! کا چېرې تاسو ملاتړی لرئ، کولای شئ له هغه څخه هم ستاسو په شاوخوا سیمه کې د موجوده تعلیمي خدماتو په اړه تري پوښتنه وکړئ.

# ښوونځي: ځینې مهم موارد چې باید ورباندې پوهه شئ

دلته ځینې مهم د یادونې وړ شیان شته چې په انګلستان کې د ښوونځیو په اړه دي:

## د ښوونځیو دورې او رخصتۍ

- د ښوونځي د دورو او رخصتیو لپاره تقویمونه ستاسو د اوسېدو سیمې ته په کتو سره فرق کوي. تاسو د لاندې موادرو د پیدا کولو په موخه کولای شئ د خپل ښوونځي سره مشوره وکړئ یا دغه ویبپاڼه وګورئ ترڅو نور معلومات ترلاسه کړئ: .gov.uk/school-term-holiday-dates
- تعلیمي کال معمولا په سپتمبر کې پیلېږي او په جولای کې پای ته رسي.
- معمولا درې دورې شتون لري: د منې دوره د پسرلي دوره او د دوبي دوره.
- د هر موسم د شرائطو ترمنځ رخصتۍ شتون لري، چې د لاندې اصولو له مخې ترسره کېږي:

| د رخصتۍ موده | د رخصتۍ وخت | د رخصتۍ نوم |
|---|---|---|
| شاوخوا 2 اونۍ | د ډسمبر وروستی – د جنوری پیل | د کریسمس رخصتي |
| شاوخوا 2 اونۍ | د مارچ وروستی – د اپریل پیل | د ایستر/عید رخصتي |
| شاوخوا 6 اونۍ | د جولای پیل – د سپتمبر وروستی | د دوبي رخصتي |

- کوم چې په یوه دوره کې یوه اونۍ کې رخصتۍ ده.

## آزموینې او ارزونې

- د کلیدي مرحلې 1 په پای کې (په 2م کال) او د 2 مې کلیدي مرحلې په پای کې (6م کال)، ماشومان معمولا د انګلیسي، ریاضي او ساینس په برخه کې ځینې آزموینې یا امتحانونه ورکوي. دغه آزموینې د SATs (د معیاري ارزونې آزموینه) په نامه یادېږي، چې له مخې یې ښوونکي کولای شي د ماشوم پرمختګ په اړه درک ترلاسه کړي.
- همدارنګه کېدی شي د SATs آزموینو په درشل کې ځینې نورې غیر رسمي آزموینې او ارزونې هم ترسره شي.
- که چېرې ستاسو ماشوم نوې د انګلیسي زده کړه پیل کړې وي، ستاسو ښوونځی کولای شي هغه لپاره په آزموینه کې یو څه ګذاره وکړي، دا ځکه چې کېدی شي د انګلیسي ژبې د زده کړې آزموینه خورا سخته وي. تاسو کولای شئ پدې اړه د خپل ښوونځي سره خبره وکړئ.

## کورنۍ دنده

- ستاسو ماشوم ته به داسې دندې ورکول کېږي چې له ښوونځي د باندې معمولا په کور کې به یې ترسره کوي.
- ځینې وخت به دغه کورنۍ دنده په آنلاین ډول ترسره کېږي. که چېرې تاسو د دغه کار د ترسره کولو لپاره یوه غوره انټرنېټ ته لاسرسی نه لرئ، نو باید د خپل ښوونځي سره خبره وکړئ.
- ستاسو د ماشوم ښوونځی به ښائي د کورنۍ دندې لپاره یو ځانګړی اتاق ولري. د کورنۍ دندې اتاق معمولا له ښوونځي وروسته وي، او ستاسو ماشومان کولای شي هلته خپلې کورنۍ دندې ترسره او له ښوونکو څخه د مرستې غوښتنه وکړي.

## ښوونځي ته د ماشومانو بېول او راوستل

- ښوونځي د ماشومانو د بېولو او راوستلو لپاره ګڼ شمېر طریقې شتون لري. ښوونځي ته ستاسو د موقعیت یا واټن په اساس، تاسو کولای شئ خپل ماشوم ښوونځي ته پیاده یا په بایسکل واستوئ. سربېره پردې، تاسو کولای شئ پدې برخه کې له عامه ترانسپورت څخه استفاده وکړئ، په ځینو مواردو کې، له خپل موټر څخه استفاده وکړئ.
- ستاسو ماشوم ښائي وکولای شي په وړیا ډول ښوونځي ته د تګ راتګ لپاره ترانسپورت ولري. که چېرې تاسو ملاتړی لرئ، نو هغه سره پدې اړه مشوره وکړئ، او یا هم دې برخې ته د مستحق کېدو معیارونه په لاندې لېنک وګورئ: .gov.uk/help-home-school-transport یا د خپلې سیمه ئیزې شورا د خدماتو په اړه په دغه لېنک کې لټون وکړئ: .gov.uk/free-school-transport

## ښه راغلاست او مناسب چلند

- ستاسو د ماشوم سره باید په ښوونځي کې مناسب او دروند چلند وشي. موږ هیله لرو چې د نورو ماشومانو او ښوونکو لخوا به د هغوی تود هرکلی وشي.
- ستاسو ماشوم دا حق لري چې په ښوونځي کې خپل دیني وجائب ادا کړي. خو په یاد ولرئ چې که چېرې تاسو غواړئ د خپلو ماشومانو لپاره د دیني رخصتیو له مخې د یوې ورځې لپاره له ښوونځي څخه رخصت واخلئ، نو باید مخکې له دې د ښوونځي د اداري سره خبره وکړئ – یعنې که چېرې دغه رخصتي د ښوونځي په رسمي رخصتیو کې شامله نه وي، نو تاسو باید اجازه واخلئ.

## ستاسو ماشوم به څه ته اړتیا ولري؟

د هغو موارد‌و په اړه مرستندویه لارښوونه چې ستاسو ماشوم ورته په ښوونځي کې اړتیا لري، د بېل بنسټ (The Bell Foundation) لخوا چمتو شوي دي. که چېرې تاسو د یو څه په لټه کې یاست یا هم پوښتنې لرئ، مهرباني وکړئ د خپل ماشوم د ښوونځي سره په اړیکه کې شئ. ځینې وخت ښوونځي مستعمل یونیفورم او تجهیزات پلوري!

- د ښوونځي د یونیفورم او د هغې د ترلاسه کولو په اړه د خپل ماشوم د ښوونځي سره په اړیکه کې شئ:
  - په انګلستان کې ډېری ښوونځي یونیفورم لري خو ځینې بیا دا کار نه کوي.
  - ستاسو د ماشوم ښوونځی به یو داسي نوملړ چمتو کړي چې تاسو باید خپل ماشوم لپاره کوم شیان واخلئ او له کوم ځای څخه یې واخلئ، او همدارنګه د PE او لامبو وهلو د کټونو په اړه پوښتنه وکړئ.
  - که چېرې تاسو مالي ستونزه لرئ، خپل ښوونځي سره چې کولای شي تاسو سره مرسته وکړي خبرې وکړئ.
- له خپل ښوونځي څخه د زده کړې د تجهیزاتو غوښتنه وکړئ چې په هغې کې لاندې موارد شامل دي:
  - د کتابونو لوستلو لپاره د کتابونو بکس، کورنۍ دنده او د ښوونځي لخوا یو لیک.
  - د PE kit بکس، بسته شوي د غرمې خواړه او داسې نور تجهیزات.
  - د پنسلونو یوه کڅوړه، قلمونه، پېنسلونه او داسې نور.
  - د حساب ماشین او نور دریاضي کاروني اړونده وسائل.
- له ښوونځي څخه د خپل ماشوم د غرمې ډوډۍ د انتخابونو په اړه پوښتنه وکړئ، چې په هغې کې لاندې موارد‌و شامل دي:
  - په ښوونځي کې خواړه – چې ځینې وخت د ښوونځي د خوړو یا غرمنۍ په نامه یادېږي.
  - د غرمې د ډوډۍ بسته – چې له کوره څخه راوړل کېږي.
  - په کور کې د غرمې ډوډۍ – د غرمې ډوډۍ لپاره کور ته تلل.
- په ښوونځي کې د خوړو د مینیو، د خوړ د مصارفو او د مصارفو د ورکړې د طریق په اړه پوښتنه وکړئ، څکه:
  - ښوونځی کولای شي د ځانګړي غذايي رژیم د اړتیاو او داسې نورو لکه د حلال خواړو په برخه کې تاسو سره مرسته وکړي.
  - ماشومان د هرکلي په ټاټوګي کې، په 1ړي او 2م کال کې په ښوونځي کې د وړیا خوړو ترلاسه کول.
  - نور هغه ماشومان هم کولای شي په ښوونځي کې وړیا خواړه (FSM) ترلاسه کړي چې والدین یې ځانګړي امتیازات ترلاسه کوي. تاسو کولای شئ پدې اړه نور معلومات دلته پیدا کړئ: gov.uk/apply-free-school-meals.





### شیدې ورکول او د ماشوم پالنه

تاسو کولای شي خپلو ماشومانو لپاره د ابتدائیه ښوونځي تر پیل مخکې وړیا پالنه ترلاسه کړئ. د خپلې سیمې په ښوونځي کې د شته موارد‌و په اړه دلته معلومات پیدا کړئ: gov.uk/find-free-early-education.

### ثانوي زده کړو ته له تګ مخکې فکر کول

که چېرې ستاسو ماشوم په 5 یا شپږ ټولګي کې ښوونځی پیل کوي، نو تاسو بنائي د هغوی لپاره په ثانوي زده کړو غور وکړئ. متوسطه ښوونځي به د ابتدائیه هغو سره توپیر لري، او ستاسو ماشوم به د GCSEs (د ثانوي زده کړو عمومي تصدیق پاڼه) په نامه د ملي آزموینې په لور ګام پورته کړي، چې معمولا د 11 ټولګي په پای کې اخیستل کېږي.

که تاسو انټرنیټ ته لاس رسی لرئ، د ثانوي ښوونځي په اړه د بیل فاؤنڈیشن ګټور لارښود لوستلو لپاره: tinyurl.com/bellfoundationsecondary ګوري.

# د یوه والد یا پالونکي په حیث ستاسو مسؤلیت

تاسو به د خپل ماشوم د زده کړې په برخه کې کلیدي رول ولوبوئ. ماشوم سره د مرستې د څرنګوالي په برخه کې د بېل بنسټ (The Bell Foundation) ځینې لارښوونې لري چې باید زده او په ښوونځي کې په پام کې ونیول شي، دغه سپارښتنې په جلا ډول چاپ شوېې دي او د دغې معلوماتي بستې د یوې برخې په حیث اضافه شوېې دي. ستاسو د ماشوم ښوونځي به له تاسو څخه د یوه پلار په حیث ځینې غوښتنې ولري. لاندې هغه موارد درج شوي چې ښائي ستاسو ماشوم یې له تاسو څخه تمه ولري:

خپل ماشوم هره ورځ په وخت کې ښوونځي ته واستوئ، مګر دا چې ناورغان وي، د ډاکټر ملاقات ولري یا د خپلو دیني ارزښتونو له مخې رخصت وي. ښوونځي کې د وړیا ترانسپورټ لپاره د شرائطو د برابرېدو معیارونه دلته وګورئ:
.gov.uk/help-home-school-transport
یا د خپلې سیمه ئیزې شورا د خدماتو په اړه په دغه لېنک کې لټون وکړئ:
.gov.uk/free-school-transport

له ښوونځي څخه د خپل ماشوم غیرحاضرۍ په اړه پوښتنه وکړئ. د امکان په صورت کې دغه پوښتنه د لوړې کچې له مسؤلینو وکړئ.

تاسو کولای شئ خپل ماشوم یوازې د ښوونځي د رختېدو په صورت کې د باندې وباسئ. که چېرې تاسو غواړئ خپل ماشوم په رسمي وخت کې له ښوونځي څخه وباسئ، نو باید جریمه ورکړئ. د نورو معلوماتو په اړه د ښوونځي سره خبرې وکړئ یا یې په لاندې لېنک کې ترلاسه کړئ:
.gov.uk/school-attendance-absence

د خپل ماشوم یا کورنۍ په اړه د مهمو پېښو یا وضعیت په اړه ښوونځي ته معلومات ورکړئ. هغوی به تر خپله توانه تاسو سره پدې برخه کې مرسته وکړي.

طبي جزئیات او د اړیکو په اړه جزئیات هغوی سره شریک کړئ.

هغه د رضایت فورم بشپړ کړئ چې له مخې یې تاسو خپل ماشوم ته د ښوونځي لخوا د علمي یا تفریحي سفر، تصویر اخیستې او داسې نورو اجازه ورکوئ.

ستاسو د ماشوم ښوونځی به تاسو سره په دوامداره توګه په اړیکه کې وي ترڅو تاسو وکولای شئ د خپل ماشوم په اړه باخبره واوسئ. ښوونځی کولای شي تاسو سره د اړیکې نیولو په برخه کې له ګڼ شمېر لارو کار واخلي:

- **د ښوونځي د وېپاڼې له لارې:** د مهمو نېټو، معلوماتو او اعلامیو په اړه خبر ورکول کېږي
- **خبرتیاوې:** لکلي پیغامونه، ټولنیزې رسنۍ (لکه. ټویټر) او داسې نور اپلېکشنونه
- **آنلاین سیستمونه:** په ښوونځي کې ډوډۍ او د والدینو غرمي ملاقاتونه
- **ایمېلونه او لیکونه:** ښوونځی، درسي ټولګی او د رخصتیو په اړه معلومات
- **د ورځې په پای کې د والدینو رپوټونه:** مخامخ ناستې او رپوټونه
- **ناستې او د ورځې په پای کې معلومات:** د ښوونځي د چارو او مضامینو په اړه
- **مخامخ اړیکه:** د تلفون یا برېښنالیک له لارې مخامخ خبرې اترې

په لوبغالي کې د ښوونکو یا والدینو سره د خبرو کولو له لارې نور معلومات ترلاسه کړئ.



# ښوونځي ته ښه راغلاست!

موږ ستاسو د ماشوم په اړه چې زموږ د ښوونځي سره یو ځای کېږي خورا خوښ یو:




په لندن کې د جان کېبل ابتدائیه ښوونځي (John Keble) 5م ټولګی سلامونه وړاندې کوي!

---

ځینې محلي ماشومانو غوښتل تاسو ښوونځي ته د تلو په برخه کې د خپلو خوندونو په اړه نور معلومات درکړي.

**اوبویا (Olivia):** بریتانیا ته ښه راغلاست! په ښوونځي کې زما د خوښې مضامین درې دي – هنر، لیکل او لوستل – دا ټول اساسي مضامین دي چې ما ته د خوښۍ احساس راکوي.

د جان کېبل ابتدائیه ښوونځي (John Keble) او نیمان کاتولیک کالج (Newman Catholic College) ماشومانو هم ستاسو د ماشومانو لپاره د هرکلي یو ویدیو چمتو کړېې دي. که چېرې تاسو انټرنېټ ته لاسرسی لرئ، نو دغه د QR کود سکن کړئ یا د reuk.org/welcome لېنک ته مراجعه وکړئ ترڅو یادې ویدیوګانې وګورئ.

**هوا (Hawa):** زما لپاره په ښوونځي کې ترټولو په زړه پورې شی ورزشي لوبې په ځانګړي ډول د فوټبال لوبه ده.








**عزت الله (Izatullah):** زه د افغانستان یم. په ښوونځي کې زما د خوښې وړ شی د انګلیسي ژبې زده کړه ده، ځکه زه هلته کولای شم نوره انګلیسي زده کړم. همدارنګه زما ریاضي او PE هم خوښېږي. زما هیله دا ده چې یو پیلوټ شم.

# د انګلیسي ژبې د زده کړې په برخه کې د خپل ماشوم سره له کومک کولو خوند واخلئ!




لوبې هغه د ساتېرۍ لارې چارې دي چې له مخې یې ستاسو ماشوم کولای شي انګلیسي زده کړي او په انګلستان کې د ژوند تېرولو په اړه فکر وکړي. د فلش کارتونه دغه لوبه ترسره کړئ ترڅو په خپله یې ووینئ!

د اړتیا وړ موارد:

- په دغه بسته کې موجود د ښوونځي د فلش کارتونو ډېک.
- لږ تر لږه دوه لوبغاړي (ستاسو په ګډون).

د لوبې موخه دا ده ترڅو تصویر د لغت سره پرتله کړو. دغه لوبه به ستاسو د ماشوم سره مرسته وکړي ترڅو د لغاتو ذخیره یې ډېره شي. دغه لوبه د هغو ماشومانو لپاره ډېره مؤثره ده چې غواړي نویې انګلیسي زده کړي یا د انګلیسي ژبې د زده کړې په لومړیو مرحلو کې دي.



1 فلش کارتونه ترتیب کړئ.
2 کارتونه په یوه هموار سطحه باندې په دوه و برخو وویشئ.
3 له زده کوونکو وغواړئ چې هر یو په خپل نوبت سره کارتونه په بل مخ واړوي (د کارتونو د هرې برخې نه یو کارت).
4 که چېرې کارتونو د نومونو سره ورته والی درلود – نو لوبغاړی دواړه کاتونه اخلي. که چېرې کارتونو ورته والی نه درلود، نو لوبغاړی کارتونه هغې برخې ته اچوي چې مطابقت کوي.

**د لوړې کچې لوبه:**


خپل ماشوم وهڅوئ ترڅو د ژبې د نمونو له لارې په کارت باندې لیکل شوی نوم ولولي. د مثال په ډول، تاسو د ،کتاب، کلمه ووایئ هغوی ورپسې اړونده لغت تلفظ کوي.

که چېرې تاسو انټرنېټ ته لاسرسی لرئ، هلته ګڼ شمېر داسې ویبپاڼې او اپلېکشنونه شته چې کولای شي د انګلیسي ژبې د زده کړې په برخه کې په کور کې ستاسو د ماشوم سره مرسته وکړي. دغه د QR کوډ په خپل تلفون کې ثبت کړئ یا reuk.org/welcome.

د فلش کارتونو په لوبه کې موجوده لغات په لاندې ډول دي:

| Word | ترجمه پشتو | ترجمه دری |
|---|---|---|
| Bag | بیک | بیک |
| Uniform | یونیفورم | یونیفورم |
| Pen | قلم | قلم |
| Pencil | پنسل | پنسل |
| Pencil case | د پنسلونو کڅوړه | جای پنسلی |
| Ruler | خط کش | خط کش |
| Desk | مېز | میز تحریر |
| Chair | چوکۍ | چوکی |
| Classroom | درسي ټولګی | صنف درسی |
| Playground | د لوبو میدان | زمین بازی |
| Ball | توپ | توپ |
| Teacher | ښوونکی | معلم |
| Friend | ملګری | دوست |
| Toilet | تشناب/بیت الخلا | تشناب |
| Lunch | د غرمې ډوډۍ | نان چاشت |
| Computer | کمپیوټر | کمپیوتر |
| Breakfast | ناشتا | ناشتای صبح |
| Peg | پانه | میخ |
| Home time | په کور کې د فراغت وختونه | وقت خانه |
| Book | کتاب | کتاب |





# د ښوونځي پیل کول

## د خپل ماشوم ملاتړ کول کله چې دوی ښوونځي پیل کوي



موږ پدې پوهیږو چې ستاسو د ماشوم لپاره به دا ستونزمنه وي چې په یوه مختلف هېواد کې یو نوی ښوونځی پیل کړي. ښائي د لاندې موضوعاتو په اړه خپل ماشوم سره مشوره یا خبرې کول به هغوی سره مرسته وکړي:

- کېدی شي هغوی په یوه نوي ښوونځي کې له فعالیت مخکې د ګڼ شمېر هېښوونکو او جالبو موضوعاتو سره مخ شي.
- لومړی اونی ښائي هغوی لپاره په زړه پورې نه وي، په ځانګړي ډول که له مخکې یې د انګلیسي ژبې زده کړه نه وي کړیې.
- مهرباني وکړئ خپل ماشوم ته ډاډ ورکړئ چې په ښوونځي له هغوی څخه ملاتړ کېږي.
- هغوی ته یادونه وکړئ چې په ښوونځي کې ستاسو بلدېدل یو څه وخت ونیسي او هر څه به سم شي.
- په لومړیو کې ښائي ستاسو د ماشوم لپاره درسي ورځ اوږده او پتنګ واوسي. د دې لپاره چې ماشوم مو په درسونو تمرکز وکړي، تاسو کولای شئ هغوی ته ووایئ چې وختي بیده شي او استراحت وکړي. روښانه ورځنی مهالوېش به هم هغوی سره په ښوونځي کې د بلدیا په برخه کې مرسته وکړي.

**خپلو ماشومانو سره د لاندې مواردو په اړه خبرې کول به هم هغوی سره مرسته وکړي ترڅو د هغه څه په اړه یو څه معلومات ترلاسه کړي چې ښائي په لومړی اونی کې ورسره مخ شي.**

## په ښوونځي کې لومړی اونی

په لندن کې د دوه و ښوونځیو ځینې ماشومانو غوښتل هغه موارد چې هغوی د ښوونځي په لومړیو کې تجربه کړي وو، شریک کړي:

**نتاشه (Natasha):** زما په یاد دي چې په ښوونځي کې په لومړی ورځ مې د خپلې مور سره په لوبغاړي کې لوبه کوله. ما هغې ته وویل چې زه واقعا ډېره خوښه یم او ما فکر کاو چې هر سړي ما سره لوبې کولې ځکه زه په ښوونځي کې نوې شامله شوې وم. خو ډېری خلک ما ته په زړه پورې وو او ما یو ملګری ومونده چې اوس هم زما ترټولو غوره ملګری دی.



**آرمو (Armo):** زه په سوډان لوی/لویه شوې یم. ما په دغه ښوونځي کې دوه اونی وړاندې پیل وکړ. زما لپاره په ښوونځي کې ترټولو په زړه پورې کار د فوټبال لوبې ترسره کول دي – دا ډېر په زړه پورې دی او لوبغالی خورا لوی دی! زما په زړه پورې مضامین رضایات او انګلیسي ده. دلته ما د ډېرو ملګرو سره لیده کاته کړي دي. ښوونځی ډېر ښه دی!





**ابوبکر(Abubakar):** زما لومړی ورځ په زړه پورې او حیرانوونکې وه. په لومړی ورځ زه لږ څه تنګ شوم خو کله چې بلد شوم بیا مې د پتنګتوب احساس و نه کړ او اوس زما ښوونځی ډېر خوښ دی.

# هغوی په ښوونځي کې چا سره لیده کاته کوي؟


که څه ټول ښوونځي یو بل سره توپیر لري، ډېری ښوونځي لاندې کارکوونکي لري. په ښوونځي کې د ګڼ شمېر خلکو د اوسېدو په اړه خپل ماشوم سره خبرې کول به هغوی سره مرسته وکړي چې د هر مسؤل شخص دنده څه ده:

- **سر ښوونکی:** د ښوونځي سر ښوونکی د ټولو اړونده چارو مسؤل ګڼل کېږي.
- **ښوونکي:** په بریتانیا کې په لومړنیو ښوونځیو کې هر ټولګی ځان ته یو ښوونکی لري چې د اړونده ټولګي د زده کوونکو د تعلیم مسؤل دی. دغه ښوونکی به ماشومانو ته د خپل مسلک لکه PE (فزیکي زده کړې) یا موسیقی سربېره، ډېری مضامین تدریس کوي.
- **د تدریس په برخه کې همکاری:** ستاسو د ماشوم په ټوګي کې ښائي د تدریس په برخه کې همکارۍ موجودې وي ترڅو د هغو ماشومانو د ښوونکو سره مرسته وکړي چې اضافي زده کړې ته اړتیا لري.
- **د هرکلي ځانګه او نور د دفتر کارکوونکي:** ستاسو د ماشوم ښوونځي ښائي په دفتر کې نور داسې کارکوونکي ولري چې د ښوونځي چارې پر مخ یوسي او ښوونځي ته د مرجعینو ارزونه وکړي.
- **تخصصي کارکوونکي:** ځینې ښوونځي به د EAL همغږه کوونکي اشخاص ولري، چې دنده به یې د هغو ماشومانو سره مرسته کول وي چې انګلیسي یې دومه ژبه وي، ګڼ شمېر ښوونځي بیا د ماشومانو د ځانګړیې زده کړې په برخه کې د هغوی اړتیا او/یا کمودیو لپاره د SEND همغږه کوونکي مسلکي اشخاص لري.
- **هغه کارکوونکي چې د شپې به شېفټ کې کار کوي:** همدارنګه ستاسو دماشوم ښوونځی ښائي د شپې کار کوونکي ولري چې دنده یې د ماشومانو د لاښې سلامتیا پالنه ده، په ځانګړې ډول په عاطفي برخه کې د ماشومانو اړتیاو ته رسېدنه او مراقبت.

ډېری ښوونځی به یوه وېبپاڼه لري چې په مټ یې تاسو کولای شئ ځان د یوه نوي زده کوونکي په حیث نورو ته ور معرفي کړئ. هلته کېدی شي داسې تصویرونه وي چې ستاسو ماشوم به یې ننداره کوي.



میرمن الارډ په لندن کې د جان کیبل ښوونځي سر ښوونکي ده





### متوسته ښوونځي

په متوسطه ښوونځیو کې به متخصصینو لخوا ګڼ شمېر مضامین په مختلفو ټولګیو کې تدریسېږي. تاسو کولای شئ د دغو درسي ټولګیو په اړه د خپل ماشوم د مهالوې له لارې معلومات ترلاسه کړئ. ښوونځی به ډاډ ترلاسه کوي چې په لومړۍ اونۍ کې ستاسو ماشوم ته دا وښئي چې کوم ځان ته مراجعه وکړي. ستاسو ماشوم به یو داسې ښوونکی ولري چې د ورځې په پیل او پای کې به ستاسو د ماشوم د ثبت یا حضور چارې په مخ وړي.

# هغوی په لومړی اونۍ کې د کومو موارد سره مخ کېږي؟

په لومړی اونۍ کې به ستاسو ماشوم یوه داسې ټولګي ته بوتلای شي چې هلته به شاوخوا 30 کسه نور ټولګیوال ولري. په لومړنیو ښوونځیو کې به نجوني او ماشومان په مختلط ډول زده کړه کوي. په ټولګي کې به داسي يو ښوونکی حاضر وی چې د هغوی ډېری درسونه به په مخ وړي.


ستاسو ماشوم ته ښائي يو مهالويش ورکړل شي ترڅو له مخې يې هغوی د مختلفو مضامینو د وختونو په اړه پوهه شي. ډېری درسونه به په عین ټولګي کې تدرسی کېږي. که چېرې ځینې ځانګړيي زده کړې (لکه فزيکي زده کړې چې ښائي له ټولګي څخه د باندې وي) په کوم بل ټولګي کې ترسره کېږي، نو ستاسو ماشوم ته به لارښوونه کېږي چې کوم ځای ته لاړ شي. همدارنګه هغوی کولای شي د خپل ترتیب شوي مهالویش له مخې هم د تفريح، خوراک او تدریس په اړه پوهه شي.

په لوړ احتمال سره ستاسو د ماشوم ښوونکی هغوی ته ځینې القابي فعالیتونه ښئي ترڅو هغوی سره بلد شي.

ګڼ شمېر ښوونځي ځانګړي ټولګي لري چې د ښوونځي تر رخصتيدو وروسته پرمخ وړل کېږي. تاسو کولای شئ له ښوونځي څخه د دغو کلپونو یا فعالیتونو د وخت او په هغې کې د ګډون په موخه معلومات ترلاسه کړئ.



د ښوونځي ښوونکې





### که چېرې تاسو د خپل ماشوم د سلامتیا په اړه اندېښنه لرئ

- که چېرې تاسو د خپل ماشوم په اړه اندېښنه لرئ، یا دا احساس کوئ چې هغوی سره د ښوونځي د نورو زده کوونکو لخوا مناسب چلند نه کېږي، نو تاسو کولای شئ د هغوی د ښوونکو یا د ښوونځي د نورو مسؤلینو سره پدې اړه خبرې وکړئ.
- ښوونځی به وکولای شي تاسو سره مرسته وکړي ځکه هر ښوونځی ځان ته پالیسی لري ترڅو دغو اندېښنو ته ځواب ووايي.
- که چېرې تاسو فکر کوئ چې ستاسو د ماشوم سره د ښوونکو یا د ښوونځي د کارمندانو لخوا ناسم چلند کېږي، تاسو کولای شئ په ښوونځي کې د خوندیتابه یا مصؤنیت د چارو د مشر سره یا رهبری سره خبره مطرح کړئ، او یا هم د خپلې سیمې د اداري سره په اړیکه کې شئ.
- که چېرې تاسو مشورې یا سپارښتنو ته اړتیا لرئ، کولای شئ له 0808 800 5000 وړیا شمېرې نه په استفادې سره د ماشومانو لپاره د خیریه امورو په برخه کې د بریتانیا د رهبری، NSPCC یا (د ماشومانو سره د ناوړیخوالي د مخنیوي ملي ټولنه) سره په اړیکه کې شئ.

# دا به د دوی په درسي ټولګي کې څه وي؟

ستاسو ماشوم به خپل ډېرى وخت په ټولګي کې تېروي. لاندې تصوير په يوه ابتدائيه ښوونځي کې د يوه درسي ټولګي نمونه وړاندې کوي.



که چېرې تاسو انټرنېټ ته لاسرسی لرئ، د QR سکن کړئ يا reuk.org/welcome لېنک وګورئ ترڅو د جان کېبل د ابتدائيه ښوونځي (John Keble Primary School) لخوا ترتيب د مګي (Maggie) او مايا (Mia) ويديو چې د هغوی له ټولګي څخه ثبت شوي ده وګورئ.

موږ هيله لرو چې د دغې ويډيو په کتلو سره به ستاسو ماشوم د ښوونځي پروړاندې لا ښه احساس پيدا کړي او خپل ټولګي او ښوونکي سره ليدو ته به سترګې په لار وي.








# د ملاتړ نورې منابع

په REUK کې موږ د زده کړې متخصصین یو، که څه هم هلته د دولتي خدماتو ترڅنګ ځینې نورې محلي او ملي ادارې او خیریه بنسټونه هم شته، چې کولای شي تاسو او ستاسو د کورنۍ سره په ښوونځي کې د پاتې کېدو په برخه کې مرسته وکړي. دغه برخه د اضافي ملاتړ د ترلاسه کولو په برخه کې ځینې اضافي معلومات وړاندې کوي.

## هغه فعالیتونه چې تاسو یې د خپلو ماشومانو سره ترسره کړئ

دا چې تاسو په خپل نوي کور کې ځای پرځای کېږئ، او دا چې تاسو د خپل ماشوم لپاره په ښوونځي کې د شمولیت په موخه چمتووالی نیسئ، ښائي دا ستاسو لپاره مرسته وکړي چې د خپلې سیمې په فعالیتونو کې دخیل واوسئ. هلته ګڼ شمېر داسې د ساتېرۍ موارد شته چې کولای شئ خپلو ماشومانو سره یې وړیا ترسره کړئ. لاندې یو څه نظریات شتون لري:

- ستاسو په سیمه کې به ستاسو د ماشومانو لپاره یو داسې پارک شتون ولري چې په هغې کې به زانګو ګانې، لخچکونه او داسې د کور باندې ځایونه وي چې خوند ترې واخلئ.
- د انګلستان ډېری موزیمونه ته لاسرسی وړیا دی.
- ډېری ښاري سیمې شنې او د کرنې سیمې لري چې کولای شئ ننداره یې وکړئ.
- که چېرې تاسو داسې ماشومان لرئ چې عمرونه یې ښوونځي ته برابر نه وي، کیدای شي ستاسو په سیمه کې د غیر ماشومانو داسې یوه ډله وي چې ستاسو ماشوم وکولای شي هغوی سره پکې وخت تېر کړي.
- د عقیدې ډلې ډېری وختونه د ماشومانو د ابتدائیه او متوسطه ښوونځیو لپاره ماښامني کلپونه لري.

د سیمې له کوم وګړي څخه د موجوده ترلاسه کېدونکو شیانو په اړه پوښتنه وکړئ، که چېرې تاسو ته نیژدې کوم د ماشومانو مرکز موجود وي.



## نورې مرستندویه خیریه ټولنې

لاندې د هغو خیریه ټولنو نوملړ موجود دی چې له کډوالو څخه د ملاتړ په برخه کې ګڼ شمېر مرستې وړاندې کوي:

### Refugee Council – refugeecouncil.org.uk

**"د کډوالو شورا"** کولای شي بحران په برخه کې مشورې او عملي ملاتړونه وړاندې کړي. هغوی کولای شي تاسو سره د نوي چاپېریال سره د ادغام او عادت کېدو په برخه کې مرسته وکړي او د رواني روغتیا په برخه کې مشوره درکړي.

### Refugee Action – refugee-action.org.uk

"د کډوالو د عمل اداره" کولای شي له تاسو څخه عملا ملاتړ وکړي ترڅو تاسو سره په نوې ټولنه کې د ادغام په برخه کې مرسته وشي.

### National Zakat Foundation – nzf.org.uk

که چېرې ستاسو کورنۍ مسلمانه وي، نو **"د ذکات ملي بنسټ"** ګڼ شمېر مختلف ډول مرستې لري – لکه د تنګۍ مرسته، د زده کړې په برخه کې مرسته، د مسکن په برخه کې مرسته، د کاري فر صتونو د چمتو کولو په برخه کې مرسته – چې تاسو کولای شئ دغه بنسټ ته د مالي همکاریو د ترلاسه کولو په موخه مرجعه وکړئ.

### British Red Cross – redcross.org.uk

**"د بریتانیا سور صلیت"** اوس هم عملا په افغانستان کې فعالیت کوي. که چېرې تاسو داسې کورنۍ لرئ چې په افغانستان کې د وروستیو بدلونونو له امله اغېزمنه شوې وي، نو د بریتانیا د سره صلیب د کورنیو د موندنې د خدماتو اداره (International Family Tracing service) کولای شي تاسو سره مرسته وکړي.

### Citizens Advice Centres – citizensadvice.org.uk

**"د اتباعو د مشورې مرکزونه"** په ټول هېواد کې شتون لري. د اتباعو د مشورې اداره د امتیازاتو، کار، قرضې او پیسو، مسکن، کورنۍ، د قانون او کډوالۍ په برخه کې ستاسو د حقونو په اړه مشورې چمتو کوي. که چېرې تاسو غواړئ د کوم مسؤل شخص سره خبرې وکړئ، کولای شئ په آنلاین ډول د مرستې غوښتنه او د خپلې سیمې د مرکز په اړه معلومات ترلاسه کړئ.



## Migrant Help – migranthelpuk.org

**"کډوالو سره د مرستې اداره"** د بېځایه کېدو له امله د زیانمنو شویو خلکو سره مرسته کوي، همدارنګه دغه اداره تاسو سره د پرمختګ او بهبود په برخه کې مرسته کوي. دغه اداره ګڼ شمېر کلیدي خدمات وړاندې کوي، لکه د بېرته ځای پرځای کېدو په برخه کې ملاتړ، او د ژباړې په برخه کې خدمات. که چېرې تاسو په افغانستان کې د خپل دوست په اړه اندېښنه لرئ، هغوی معلومات لري.

## NSPCC – nspcc.org.uk

**"این ایس پی سی سی"** د ماشومانو لپاره د بریتانیا مخکښ خیریه بنسټ دی. هغوی یو لړ پروګرامونه لري ترڅو ماشومانو له تاوتریخوالي وژغوري، د مخ په رغېدو ماشومانو سره مرسته وکړي او له کورنیو څخه ملاتړ وکړي. د هغوی یو له خدماتو څخه مرستندویه شمېره ده. که چېرې تاسو د خپل ماشوم په اړه اندېښنه لرئ، حتی که چېرې تاسو مطمئن هم نه یاست، کولای شئ 0808 800 5000 شمېرې ته زنګ ووهئ ترڅو د مرستې، مشورې او ملاتړ په برخه کې د یوه مسلکي مشاور سره خبرې وکړئ.

## د سلامتیا/روغتیا په برخه کې آنلاین منابع

### د سلامتیا فزیکي حرکات

که چېرې تاسو انټرنېټ ته لاسرسی لرئ نو په لاندې لېنک کې په پښتو او دري ژبو ځینې د ساه اخیستنې، استراحت، د اظطراب پرورېندې د مبارزې او غوره خوب طریقې انلاین موجود دي: دغه د QR کوډ سکن کړئ یا reuk.org/welcome لېنک ته ورشئ ترڅو دغو منابعو ته لاسرسی پیدا کړئ.

## Childline (for children) – childline.org.uk

این ایس پی سی سی د ماشومانو لپاره د **"د ماشومانو مرستندویه کرښه"** په نامه د یوې وړیا شمېرې خدمات وړاندې کوي. د ماشومانو مرستندویه کرښه (Childline) کولای شي په بریتانیا کې د هر هغه ماشوم سره چې عمر تر 19 کلونو ټیټ وي د هرې لویې او کچنۍ موضوع په په برخه کې مرسته وکړي. ستاسو ماشوم هر وخت د شپې او د ورځې کولای شي په وړیا ډول د یوه روزل شوي مشاور سره خبرې وکړي. دوی کولای شي د تلیفون له لارې د ماشومانو مرستندویه کرښې سره اړیکه ونیسي (د 0800 111 په زنګ وهلو سره)، د ایمېل له لارې، یو په یو د مشاور سره د خبرو اترو له لارې. لطفا په یاد ولرئ چې ماشومان معمولا ترجمان نه لري.

## د لویانو لپاره تعلیمي کورسونه

د هېواد په کچه ګڼ شمېر د ESOL (د نورو ژبو د ویونکو لپاره انګلیسي) کورسونه موجود دي چې تاسو سره د خبرې کولو، اورېدو یا درک، لوستلو او لیکلو په برخه کې مرسته وکړي، چې پدې سره تاسو کولای شئ د خپلې ژبې په زده کړه او د بهبود په برخه کې استفاده وکړئ. دلته ګڼ شمېر وړیا خدمات او حقوق شتون لري، نو مهرباني وکړئ پوښتنه يې وکړئ چې په سیمه کې کوم یوه ته لاسرسی کیدای شي.

## د ژباړې یا ترجمانۍ خدمات

که چېرې تاسو د هر ډول مهمې ناستې یا پېښې پرمهال ژباړې ته اړتیا لرئ، نو مهرباني وکړئ د خپل ملاتړي سره پدې اړه خبره وکړئ که موجود وي. تاسو کولای شئ له هغوی څخه د لاندې خدماتو غوښتنه وکړئ چې د پناغوښتونکو او کډوالو لپاره په ټیټه بیه د ژباړې خدمات چمتو کوي:

- روښانه غږ (Clear Voice) – clearvoice.org.uk
- د پراکسیز (Praxis) د ژباړې خدمات – praxis.org.uk/interpreting







# اصطلاح ګاني

د انګلستان په تعلیمي نظام کې ځینې اصطلاحات شتون لري چې په لاندې ډول دي:

| معنا | لغت |
|---|---|
| په انګلستان کې د تعلیمي چارو مسؤلیت د حکومت د ملي اداري په غاړه دی. دغه اداره همدارنګه د ماشومانو د مصؤنیت مسؤلیت هم په غاړه لري. | **د تعلیم څانګه** |
| هغه ښوونځي چې وړیا دي، او د محلي اداري یا مستقیما د حکومت لخوا یې مصارف ورکول کېږي. | **دولتي ښوونځي** |
| د تعلیمي مضامینو یوه ټولګه او معیارونه چې له ټولو دولتي ښوونځیو څخه یې د چمتو کولو غوښتنه کېږي. ملي تعلیمي نصاب داسې یو نصاب دی چې له مخې یې ټول ماشومان د ورته زده کړې او تعلیمي موارد درلودونکي دي. | **ملي تعلیمي نصاب** |
| ملي نصاب د کال له مخې په څو برخو وېشل شوی چې د مهمو کلیدي پړاوونو په نامه یادېږي. د هر کلیدي پړاو په پای کې به ستاسو له ماشومانو څخه ځینې آزموینې واخیستل شي ترڅو ښوونکي وکولای شي د هغیو ارزونه وکړي. | **مهم کلیدي پړاوونه** |
| سیمه ئیزه حکومتي اداري په ځانګړیو برخو کې لکه معارف کې د عامه خدماتو د عرضې مسؤلیت په غاړه لري. | **محلي اداري** |
| هغه اداره یا بنسټ چې خلکو سره د ستونزو په حل کې مرسته کوي. خیریه بنسټونه دوي نه کوي او ډېری وخت وړیا خدمات وړاندې کوي.<br>کډوالو سره د مرستې په موخه ګڼ شمېر خیریه بنسټونه رامنځ ته شوي دي ترڅو په انګلستان کې یو معنوي ژوند ولري. د ملي خیریه بیسټونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره د "د ملاتړ نورې منابع" (Other sources of support) وګورئ. که چېرې تاسو ملاتړی لرئ، دوي کولای شي تاسو ته د هغهو خیریه بنسټونو په اړه معلومات درکړي چې ستاسو په سیمه کې فعالیت کوي. | **خیریه بنسټونه** |



# د رنګولو پاڼه



Refugee Education UK


## Copyright

Text copyright © 2021 Refugee Education UK

The right of Refugee Education UK to be identified as the author of this work has been asserted by them in accordance with the Copyright, Designs and Patents Act 1988.

All rights reserved. No part of this publication may be reproduced or transmitted in any form or by any means, electronic or mechanical, including photography, without permission in writing from Refugee Education UK.


Image credits

iStockphoto.com: boy participating in class, SolStock; classroom, DGLimages; education icons, bounward; laptop home learning, Jovanmandic; school building, clubfoto; school doodle pattern, redchocolatte; speech bubbles, Aleksei Lagunov; female teacher and students, monkeybusinessimages; writing equipment, Image Source.


All other photographs © 2021 Refugee Education UK



**Designed by Jude May Design**
**Published by Refugee Education UK**
**Website: reuk.org**